AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی
۲۰۲۳/۰۷/۲۲

# نړیوالې ټولنې

## ۶۵ برخه

**هغه ټولنې چې ځانګړې واکونه لرې**

**۱۱ – ډی اته ډله (D8) D8 Group**

D8 د ترکيې د لومړي وزير او د رفاه اسلامپاله ګوند مشر، نجم الدين اربکان، په وړانديز په کال ۱۹۹۷ کې د ترکيې، ايران، پاکستان، بنګله ديش، اندونيزيا، ماليزيا، نايجريا او مصر تر منځ، د اقتصادي همکاريو د پياوړتيا او دG ۸ هيوادونو سره د خبرو په نيت جوړ شو.
اهداف: په نړيوال اقتصاد کې د پرمختيايي هيوادونو د دريځ پياوړي کول، په سوداګريزو اړيکو کې د نويو فرصتونو برابرول، په نړيوالو پريکړو کې د مشارکت پراختيا، د غړو هيوادونو د ولسونو د ژوندانه ښه کول او اقتصادي ټولنيزه پرمختيا.
D8 دې اهدافو ته د رسيدو له پاره لاندې اصول په پام کې نيسي: د شخړې په ځای سوله، د مخامخ کيدو په ځای خبرې، د استعمار په ځای همکاري، د دوه ګوني چلند په ځای عدالت، د تبعيض په ځای برابري او د ظلم په ځای ولسواکي.
جوړښت:
سرمشريزه: د غړو هيوادونو د ولسمشرانو يا لومړي وزيرانو غونډه چې په هرو دوو کلونو کېيوځل جوړيږي.
د D8 لومړنی سرمشريزه په کال ۱۹۹۷ کې، په استانبول کې وشوه چې د ټولنې جوړښت يې اعلان کړ او دا کاري ډلې يې له ځانګړو دندو سره وټاکلې:

- د اطلاعاتو او اړيکو ډله (ايران)،
- د صنعتي چارو او چاپيريال ساتنې ډله (ترکيه)،
- د سوداګريزو چارو کاري ډله (مصر) چې په لاندې برخو کې کار کوي: د بازار موندنې او د نړيوالې سوداګرې شرکت جوړول، د سوداګريزو معلوماتو د مرکز جوړول، د بيړی چلونې په برخه کې همکاري، بانکي همکاري، ګمرکي همکاري او د غړو هيوادونو سوداګرو ته د ويزې د ورکړې اسانتيا.
- مالي چارې، بانکونه او د خصوصي کولو ډله (ماليزيا)،
- د بېوزلتيا د کمولو او انساني سرچينو ډله (اندونيزيا)،
- د کرنيزو چارو ډله (پاکستان)،
- د کليوالي سيمو د پراختيا ډله (بنګله ديش)،
- د انرژی ډله (نايجريا).

دويمه غونډه په ډاکه (بنګله ديش) کې وشوه چې د نړيوالو بدلونو د ځيرلو تر څنګ، د نړيوالو مالي بدلونونو او د جنوبي آسيا هيوادونو د اقتصادي بحران په اړه بحثونه پکې وشول.
پنځمه غونډه په کال ۲۰۰۷ کې په اندونيزيا کې وشوه چې د غړو هيوادونو تر منځ، د ترجيحي سوداګرۍ او ګمرکي همکاريو دوه تړونونه پکې لاسليک شول.
د وزيرانو شورۍ: دا شورۍ د غړو هيوادونو د بهرنيو چارو له وزيرانوڅخه جوړه ده چې د مهمو سياسي مسايلو په اړه خبرې، سپارښتنې او پرېکړې کوي.
دارالانشا: دارالانشا د D8يو وړوکی دفتر دی چې په استانبول کې موقعيت لري، د ټولنې ورځنی چارې ته مخ ته وړي او د سرمشريزو او د وزيرانو شورۍ د غونډو د پرېکړو د عملي کولو مسووليت په غاړه لري.[1]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

## ۱۱ – د خپلواکه مشترک المنافع هېوادونو ګډ امنیتی تړون The Commonwealth of Independent States( CIS)

روسيې، اوکراين او بيلاروس په کال ۱۹۹۱ کې، په بريسټ (بيلاروس) کې د خپلواکه مشترک المنافع هېوادونو، د ټولني هوکړه لاسليک او اعلان وکړ چې دا يوه نوښتولنه ده چې، د پخواني شوروي اتحاد د جمهوريتونو په ګډون، نور هېوادونه هم کولای شي غړيتوب ترلاسه کړي.

د کال ۱۹۹۱ کال د دسمبر په ۲۱ د نهو هېوادونو (روسيه، اوکراين، بيلاروس، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغيزستان، ارمينيا او ترکمنستان) مشرانو په الماتا (قزاقستان) کې، د ټولنيکړنلاره او تګلاره په دو – فاکټو ډول تصويب او لاسليک کړل.

دا کړنلاره وايي چې ټول غړي هېوادونه خپلواک او د ملي واکمنی لرونکي دي.

استونيا، لاتويا او ليتوانيا لهCISڅخه ليرې پاته شول؛ خو اذربايجان او جورجيا په کال ۱۹۹۳ او مولدووا په ۱۹۹۴ کي لهدی ټولنيسره يوځای شول.

جوړښت: د CIS د کال ۱۹۹۲ د پرېکړې له مخې، دا ټولنه لوی اداري جوړښت لري: سرمشريزه، د بهرنيو چارو وزيرانو شوری، د دفاع وزيرانو شوری، د سرحدي ځواکونو د قومندانانو شوری، اقتصادي شوری، د دايمي استازو شوری، اجراييه کمېټه او د پوځي همکاريو د همغږی مرکز يا د وسلوالو ځواکونو لويه قوماندانی.

د پارلمان غونډه چې د يوه مشورتي بنسټ په توګه، په کال ۱۹۹۲ کې د غړو هېوادونو د پارلمانونو له استازو جوړه شوه، په کال کي دوه ځلې په سنت پترزبورګ (روسيه) کې جوړېږي او په حقوقي، اقتصادي او مالي، سياسي،ټولنيزو، بشري حقونو، چاپېريال ساتنې او طبيعي زېرمو، امنيتي، دفاعي، فرهنګي، علمي او اطلاعاتي برخو کې دايمي کمېسيونونه لري.

دارالانشا: دCIS دارالانشا په بيلاروس کي موقعيت لري او داسېبو اجراييه منشي يې په سر کې دی چې د ټولو اداري چارو مسوولیت لري.

په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو کې، د جورجيا، اوکراين او قرغېزستان رنګه انقلابونو، لوېديځ پلوه مشران واک ته ورسول، چې د خپلواکه مشترک المنافعو هېوادونوګډ امنيتي تړون يې له جدي ستونزو سره مخامخ کړ.

جورجيا په ۲۰۰۶ کې دCIS د دفاع وزيرانو د شوری څخه ووته او ترکمنستان په کال ۲۰۰۵ کې، خپل غړيتوب دويمي کچې (Associate Member) ته ټيټ کړ .[2].

---

[1] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۴۳-۲۴۲
[2] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۲۷


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ